**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د کفر او ایمان تر منځ پوله د لمانځه ترک کول دي

**(ژباړه)**

له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**بَيْنَ الكُفْرِ وَالإِيمَانِ تَرْكُ الصَّلَاةِ**» (جامع الترمذي/٢٦٦٣)

**ژباړه:** *د کفر او ایمان تر منځ پوله (د بېلتون ټکی) د لمانځه ترک کول دي.*

دغه حدیث شریف په تفصیل سره د کفر او ایمان تر منځ پوله بیانوي؛ یعنې د دوو متضادو باورونو (ایمان او کفر) تر منځ د بېلتون ټکی لمونځ دی. دغه امر د الله سبحانه وتعالی پر عبادت او پر ټولو خاصو او عامو احکامو باندې په منګولو لګولو دلالت کوي، ځکه که د صلاة (لمانځه) لغوي معنا ته ځیر شو، نو وینو چې د خاصو عباداتو د ترسره کولو لپاره له خپل رب سره د بنده د اړیکې په معنا دی. همدارنګه یو مسلمان باید د هغه عمل په ترسره کولو کې خپله ژمنتیا څرګنده کړي، چې یو بنده خپل رب ته نږدې کوي او هغه عملونه باید ترسره کړي چې الله سبحانه وتعالی پرې فرض کړي دي.

هغه عملونه چې د شکر، عبادت او الله سبحانه وتعالی ته د نږدېوالي ښکارندویي کوي، په ټولو کې مهم یې لمونځ دی. خو که د لمانځه هراړخیزې معنا ته پام شي، د صلاة تر نامه لاندې موخه یې ټول شرعي احکام دي؛ ځکه دغه موضوع له متن څخه ترلاسه کولی شئ. صلاة د هغو ټولو احکامو په اړه کنایه ده، چې الله سبحانه وتعالی پر انسان فرض کړي او یو انسان باید یوازې د ایمان پر ژبني اقرار بسنه ونه کړي؛ بلکې د ایمان پر هغو غوښتنو یا احکامو باید عمل وکړي، چې ایمان د هغو پر ځای کول ایجابوي او الله سبحانه وتعالی له موږ غوښتي چې ورته ژمن پاتې شو او منګولې پرې ټینګې کړو. پر همدغه اساس دواړې معناوې ترې اخیستلی شو او دواړې پخپل وار سره سمې دي.

پر موږ مسلمانانو لازمه ده چې د الله سبحانه وتعالی پر ټولو احکامو ـ له عباداتو نیولې بیا تر معاملاتو پورې ـ یو ډول عمل وکړو، ځکه پر الله سبحانه وتعالی رښتینی باور یوازې هغه وخت په لاس راځي، چې دغه تصدیق عملي پلی کړو، چې په حقیقت کې د الهي احکامو پلي کول دي.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ د هغو کسانو په ډله کې حساب کړي، چې پر الله سبحانه وتعالی یې د «رب» په توګه ایمان راوړی او پر خپل ایمان او هغو ټولو احکامو چې په شریعت کې پرې واجب دي،

استقامت کوي. همدارنګه له الله سبحانه وتعالی غواړو چې موږ د مسلمان په توګه په دنیا کې ژوند وکړو او د مسلمان په توګه له دنیا څخه لاړ شو. الله آمین!

اې ربه! د نبوت پر منهج راشده خلافت راپه برخه کړه، چې په واسطه یې د مسلمانانو ستونزې او سختۍ لرې او مصیبتونه او بلاوې له منځه لاړې شي. اې ربه! ځمکه په خپل کریم نور سره روښانه کړه! اللهم آمین آمین!

**ژباړه: بهیر (ویاړ)**